


# د اِنَّا لِلّٰه لو ستلو برکتونه

## 24-August-2023

هفته وار د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کيدونکے

د سُنّتو ډك بيان

(For Islamic Brothers)

په 24 اگست کال 2023ء د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کيدونکے بيان

# د اِنَّا لِلّٰه لوستلو برکتونه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (اسلامِک ريسرچ سنټر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

د حضرت عَبدُ الرَّحمان بن عَوف رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے: يوه ورځ د نبيانو سردار، د مديني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دولت خانې (يعني د كور مبارک) نه بهر تشريف راوړلو او يو باغ طرف ته روان شولو، حضرت عَبدُ الرَّحمان بن عوف رَضِیَ اللهُ عَنْهُ چې اوليدلو نو [هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ وريسې هم] وروستو وروستو روان شول، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باغ ته لاړل، قبلے طرف ته ئې مخ كړلو او سر ئې په سجده كيښودلو، حضرت عَبدُ الرَّحمان بن عوف رَضِیَ اللهُ عَنْهُ لرې ولاړ وو او كتل ئې، فرمائي: د بے وَسو مددگار، سركارِ عالي وقار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډيره اوګږده سجده اوكړله، تر دې پورې چې زما سره انديښنه شوه چې هسې نه د سجدې په حالت كښې الله پاک [د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] رُوح مبارک قبض كړے نه وي، دا خيال چې مې اوكړو او وړاندې راغلم، زما د قدمونو آواز ئې چې واوريدلو نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سر مبارک د سجدې نه رااوچت كړلو، پوښتنه ئې اوكړله: څوک ئې؟ ما عرض اوكړو: حُضور! عَبدُ الرَّحمان. اوئې فرمائيل: څه كار دې دے؟ ما عرض اوكړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! تاسو دومره اوګږده سجده اوكړله، چې

زه اوويريدم هسې نه الله پاک په سجده کښې [ستاسو] رُوحِ مبارک قبض کړے نه وي.

د عاشقِ زار د محبت نه ډکه خبره ئې چې واوريدله نو د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اوکړدې سجدې کولو حِکمت بيان کړلو، اوئې فرمائيل: زما خوا ته جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام حاضِر شولو او اوئې وئيل: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم الله پاک فرمائي: اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! څوک چې په تاسو باندې درود لولي، زه به په هغوئي باندې رحمتونه نازلووم، څوک چې په تاسو باندې سلام را ليږي، زه به په هغوئي باندې سلامتيا نازلووم. د دې نعمت د شُکر ادا کولو د پاره ما دومره اوږده سجده اوکړله.[1]

اَللّٰهُ اَکْبَر! اے عاشقانِ رَسُول! غور اوکړئ! ❀ درود به څوک لولي؟ اُمَّتي ❀ رحمت به په چا باندې نازليږي؟ په اُمَّتي باندې ❀ سلام به څوک ليږي؟ اُمَّتي ❀ د الله کريم سلامتيا به په چا باندې نازليږي؟ په اُمَّتي باندې ❀ او سجدهٔ شُکر څوک ادا کوي؟ د اُمَّت غم خوار، شفاعت کوونکے، اُمَّت بخښلو والا، جنَّت ته رسولو والا آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ...!

سُبْحٰنَ الله! اندازه اولګوئ! زمونږه د خوږ آقا، مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت سره څومره مينه ده. الله! الله! اُمَّت ګناه اوکړي، آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شپې په ژړا ژړا تيروي، اُمَّت ته نعمت ميلاؤ شي، آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شُکر سجدې کوي. د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ورور، مولانا حسن رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي:

تم کو تو غلاموں سے ہے کچھ ایسی مَحبت | ہے ترکِ اَدَب! ورنہ کہیں ہم پہ فدا ہو[2]

---

[1]... مسندِ اَحْمَد، جلد:1، صفحه:191، حديث:1664۔

[2]... ذوقِ نعت، صفحه:211۔

**وضاحت:** یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو د خپلو غلامانو سره دومره محبت دے، دا ادب نه دے کنې چې مونږه اووايو چې تاسو په خپلو غلامانو باندې عاشق ئې.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو باندې دے.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! ښه نيت بنده جنّت ته رَسَوي، د بيان اوريدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❁ د الله پاک د رضا د پاره به بيان اورم ❁ عِلمِ دِين به زده کووم ❁ ټول بيان به اورم ❁ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه کښېنم ❁ نصيحت به حاصلووم ❁ د اَحمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاک نوم چې واورم نو درودِ پاک به لولم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اوسپني تسمو لګوونکي ته نصيحت

د صحابئ رسول حضرت انس بن مالِک رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے: يو ځل د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مدني، محمدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو کَس اوليدلو کوم چې په خپل پيزار کښې د اوسپنې تسمې لګولې وې، په دې باندې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي د تربيت کولو سره اوفرمائيل: ستا اُميد اوکړد شوے دے، تهٔ د ثواب نه بے رغبته شوے ئې او د نيکو نه ځان خلاصوې. بے شکه کله چې د انسان د پيزار تسمه اوشليږي

[1]... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1۔

او هغه په دې باندې اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيۡهِ رٰجِعُوۡن اولولي نو د دې عمل په برکت باندې په ده باندې د الله پاک درود، هدايت او رحمت ورِيږي، بس دا جزا د هغه د پاره د ټولې دنيا نه بهتره ده.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! زما د آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تربيت انداز ته اوګورئ! څومره ښکلے دے، په ظاهره دا يوه معمولي شان خبره وه، کيدے شي چې د هغه ګس د پيزار تسمه بيا بيا شليدله، څکه هغه د اوسپنې د تار وغيره تسمه تړلې وه، په ظاهره خو دا عمل ښه لګي چې په دې کښې سهولت دے، بيا بيا د خوارئ نه اوزګار شوے دے خو د رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تربيت صد مرحبا...!! هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّت ته د دنيا نهٔ بلکه د آخرت فِکر ښودلے دے، په پيزار کښې د اوسپنې د تسمې لګولو سره د دنيا سهولت خو ميلاؤ شو خو د آخرت څومره نقصان اوشو، يقيناً تسمه شليدل هم يو ازميښت، يو مصيبت دے او مؤمِن بنده ته چې کله مصيبت اورسي، هغه په دې باندې اِنَّالِلّٰه اولولي نو د هغه رحمتونه نصيب کيږي، د الله پاک درودونه ئې نصيب کيږي، د صبر کولو موقع ئې نصيب کيږي، ظاهره ده چې کله د پيزار تسمه نه شليږي نو خواري به هم نه وي، چې خواري نه وي نو د صبر موقع به هم نه ميلاويږي، د صبر موقع چې ميلاؤ نه شي نو د صبر د عظيم الشان ثواب نه به محرومه شي.

عالَم کی خبر رکھتے ہیں گروہ تو عجب کیا | بھیجا ہے خُدا نے انہیں ہر عِلْم سکھا کر

## د نيکئ موقعې پيدا کړئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د دې نه مونږ ته معلومه شوه چې هر کار اګرچه جائز هم

---

[1]... موسوعه ابنِ ابی الدنیا، کتاب قصر الامر، جلد:3، صفحه:305، حدیث:8۔

وي خو که هغه د نیکو نه د محرومۍ سبب جوړیږي نو بهتره دا ده چې بنده هغه کار اونکړي مثلاً ❁ ټوټه برش کول، دا هم اګرچه جائز دے خو د دې په ځائے د مسواک په سنت باندې د عمل کولو نه محرومه کیدے شي ❁ د ښه ډیزائن والا ټوپۍ اخستل، ظاهره ده چې ښکلې ټوپۍ اخلې نو په سر کولو ته به دې هم زړه کیږي، که په سر کوې ئې نو د عمامې د سُنَّت نه به محرومه شې ❁ داسې په واش بیسن باندې اودس کول، دا هم اګرچه جائز دے خو په دې باندې په ولاړه اودس کول وي، ځکه به په ناسته د اودس کولو د نیکۍ نه محرومه پاتې شې ❁ داسې د شپې زر نه اوده کیدل چې زر نه اوده کیږي نو د تهجدو نه محرومه کیدے شي بلکه دومره ناوخته اوده کیدل چې د سحر د لمُونځ د پاره هڅو سترګې اونه غړیږي، دا خو ګناه ده، د دې نه بچ کیدل لازمي دي.

خیر! هر هغه کار کوم چې اګرچه جائز وي خو هغه د نیکو نه د محرومۍ سبب جوړیږي نو د دې نه بچ کیدل بهتر دي. مونږ له کوشش پکار دے چې داسې موقعې پخپله پیدا کړو، د کومو په ذریعه چې د زیاتو نیکو ګټلو موقع میلاؤ شي، مثلاً ❁ په لاس کښې تسبیح ساتۍ، د دې په برکت به موقع په موقع ذِکر او درود کیږي ❁ د کور نه د اودس کولو سره جُمات ته د تللو عادت جوړ کړئ، نیکۍ به زیاتې میلاویږي ❁ که کیدے شي نو پیدل جُمات ته ځئ، په دې کښې به خواري وي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! ثواب به مو زیات کیږي ❁ زما شیخِ طریقت، امیرِ اهلسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د کپړې په نرمه ټوپۍ باندې پټکے تړي، دا هم د نیکو ګټلو یوه ذریعه ده چې کله عِمامه شریف کوزوئ، هغه به پرانستے شي، بیا به تړل وي، داسې به په هر ځل د عمامې شریفې په تړلو ثواب کیږي

او که هر ځل یو یو وَل پرانیزئ نو په دې باندې به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! نیکئ میلاویږي ❁ دغه شان د سحر د لمُونځ د پاره د راپاڅولو عادت جوړ کړئ! د دې په برکت به د سحر لمُونځ د جَمعې سره د کولو پابندي کیږي ❁ جُمات دَرس شروع کړئ! د جَمعې سره د لمُونځ کولو پابندي به نصیب شي ❁ په کور کښې درس شروع کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! په کور کښې به دیني ماحول هم جوړ شي، ثواب به مو هم کیږي او د دې په برکت به په کور کښې د کیدونکو ډیرو بے احتیاطونو نه بچ شئ.

غرض: ښه دا دي چې مونږ د آخرت فِکر اوکړو، هر هغه یو کار کوم چې د نیکو نه د محرومه کولو والا وي، د هغې نه د بچ کیدلو کوشش اوکړو او هر هغه یو کار کوم چې د زیاتو نیکو ګټلو سبب جوړیږي، د هغه کار د خپلولو کوشش کوو. که جذبه رښتیني وي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! لارې به راته برسیره شي.

## د نیکو حِرص خپل کړئ!

په **حدیثِ پاک** کښې دي، رسولِ رحمت، شفیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: اِحْرِصْ عَلٰی مَا یَنْفَعُكَ وَاسْتَعِنْ بِاللّٰهِ وَ لَا تَعْجِزْ یعنې څه چې تاسو ته فائده رسوي، د هغې حرص کوونکي جوړ شئ! د الله پاک نه مدد غواړئ او عاجزه مه جوړیږئ! [1]

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې حدیثِ پاک په شرح کښې فرمائي: یعنې کوم څیز چې تاسو ته دیني فائده رسوي په هغې کښې قناعت مه کوئ! ښه حرص کوئ! د هغې د حاصلولو کوشش کوئ خو په خپل

[1]... مسلم، کتاب القدر، باب فی الامر بالقوۃ... الخ، صفحہ:1027، حدیث:2664۔

کوشش باندې باور مه کوئ، په الله پاک باندې تَوَکُّل کوئ! (د هغه نه مدد غواړئ). یاد ساتئ! په دنیائي څیزونو کښې قناعت او صبر ښه دے خو د آخرت په څیزونو کښې حرص او بے صبري اعلٰی ده، د دِین یوے درجے ته په رسیدو باندې قناعت مه کوئ! د نور وړاندې تللو کوشش کوئ! الله پاک فرمائي:

فَاسْتَبِقُوا الْخَیْرٰتِ ؕ
(پاره:6، المائده:48)

مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان: نو د نیکو په لور د نورو نه مخکښې څئ.

د فارسۍ یو شاعِر څه ښکلي وئیلي دي:[1]

حَاجَتے نِیْسْتْ مَرا سَیْرِ اَزِیْں آبِ حیات
ضاعَفَ اللّٰهُ عَلٰی کُلِّ زمانٍ عَطْشِیْ

مفهوم: په دې آبِ حیات (مثلاً په نیکو وغیره) باندې تنده ماتول زما مقصد نه دے، الله پاک دې همیشه زما تنده زیاته ساتي.

الله پاک دې زمونږ د ټولو د نیکو حرص، د ګناهونو نه د بچ کیدو او هر وخت د آخرت د فِکر کولو توفیق نصیب کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## خلق مسلماني آسانه ګڼي

اے عاشقانِ رَسُول! دا دُنیا د امتحان یوه کمره ده، دلته مشکلات، پریشانئ، ازمینبتونه، مصیبتونه راځي، مونږ د دې نه نشو بچ کیدے.

یہ آتی جاتی ہوئی سانسیں زِندگی کے لئے | اِک امتحان مسلسل ہے آدمی کے لئے

[1]... مرآۃ المناجیح، جلد:7، صفحہ:112 بتغیر قلیل۔

بعضې خلق سوچ کوي، بعضې وخت پوښتنه هم کوي چې مونږ مسلمانان یو، مونږه کلمه وئیلو والا یو، الله پاک منلو والا، د هغه عبادت کولو والا یو، بیا په مونږ باندې ازمیښتونه ولې راځي؟ د دې سیدها ساده جواب دا دے چې دا دنیا د مؤمن د پاره قید خانه ده او په قید خانه کښې ازمیښتونه وي.

په روایتونو کښې دي: د عرب بعضې کلي وال خلق به مدینهٔ پاک ته راتلل، د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې به ئې د حاضریدو سره کلمه وئیله، دې نه پس به که چرې هغوئي ته خوشحالي میلاویدله نو وئیل به ئې چې اسلام رښتینے دِین دے، ځکه به په اسلام باندې قائم پاتې کیدل او که خوشحالي به نه میلاویدله، څه سخته پریشاني به راتلله نو مَعَاذَالله! دِین به ئې پریښودو او مُرتَد کیدل به، د دوئي په باره کښې دا آیت نازل شو، الله پاک اوفرمائیل:[1]

وَ مِنَ النَّاسِ مَنْ یَّعْبُدُ اللّٰهَ عَلٰى حَرْفٍۚ فَاِنْ اَصَابَهٗ خَیْرُ-ﰳاطْمَاَنَّ بِهٖۚ وَ اِنْ اَصَابَتْهُ فِتْنَةُ-ﰳانْقَلَبَ عَلٰى وَجْهِهٖ ﱡ خَسِرَ الدُّنْیَا وَ الْاٰخِرَةَؕ ذٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِیْنُ(۱۱)

(پاره:17، الحج:11)

مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان: او څه سړي هغه دي کوم چې د الله عبادت یو کوټ ته د کیدو سره کوي بیا که هغوئي ته څه خیر اورسي نو په هغې باندې مطمئن کیږي او که په هغوئي ازمیښت راشي نو بیرته ګرځي. داسې کس په دنیا او آخرت دواړو کښې تاواني دے. دا ښکاره نقصان دے.

یہ شہادت گہِ اُلفت میں قدم رکھنا ہے
لوگ آسان سمجھتے ہیں مسلماں ہونا

**وضاحت:** یعنې مسلمان وئیل خو ډیر آسان کار دے خو حقیقي مسلمان جوړیدل آسان نه دي،

[1] ...تفسیرِ قرطبی، پارہ:17، الحج، زیرِ آیت:11، جز:12، جلد:6، صفحه:13۔

حقيقي مسلمان هر وخت تيار اوسي چې د اسلام په خاطر او څه قسمه قرباني هم ورکيدے شي او د دِين د سر لوړئ د پاره د ژوند ورکولو سره شهيد کيدے هم شي.

## اسلام انسان پاک صفا کوي

حضرت ابو سعيد خُدري رضی اللہ عنہ فرمائي: يو ځل يو غير مسلمه اسلام قبول کړو، (د الله پاک شان ته ګوره چې د مسلمانيدو نه پس) د هغه نظر په تللو شو، په مال او دولت کښې ئې هم کافي نقصان اوشو، اوس هغه پوهه شو چې دا مَعَاذَ الله! د اسلام قبلولو نحوست دے، هغه په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: زما نه اسلام بيرته واخلئ! خوږ آقا صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم اوفرمائيل: اسلام خو واپس نشي اخستے کيدے. هغه اووئيل: د دې دِين د قبلولو نه وروستو ما هيڅ خير اونه موندو، زما د سترګو نظر لاړ، په مال او دولت کښې مې هم کافي نقصان اوشو، په دې باندې خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم اوفرمائيل: اے انسانه! لکه څنګه چې اور د سرو زرو او د سپينو زرو نه زنګ لرې کوي، هم داسې اسلام خلق پاک او صفا کوي.[1]

معلومه شوه چې په مسلمان هم ازميښتونه راځي بلکه د غير مسلمو په نسبت په مسلمانانو باندې ډير ازميښتونه راځي، ولې راځي؟ دې د پاره چې مونږ ګنهګاران وينځلے شو [يعني پاک کړے شو]، زمونږ د زړه نه خِيرے لرې شي او مونږه د دننه نه د پاک صفا کيدو سره د جنت حقداران جوړ شو.

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** دا خو ټاکلې ده چې په دنيا کښې ازميښتونه، مصيبتونه او مشکلات راځي، څکه مونږ له پکار دي چې د دې نه د لرې تښتيدو په ځائے، دې ته

[1]... اسباب النزول للواحدی، سورۂ حج، صفحه:239، حديث:639۔

مخامخ شو او د دې مشکلاتو، پریشانو او مصیبتونو د آخرت د ثواب د ذریعې جوړولو کوشش اوکړو.

دا به څنګه کیږي؟ راځئ! واورئے!

## مصیبت د ثواب ذریعه جوړه کړئ!

په سیپاره 2، سورۀ بقره، آیت: 155 کښې الله پاک فرمائي:

وَلَنَبۡلُوَنَّكُمۡ بِشَیۡءٍ مِّنَ الۡخَوۡفِ وَالۡجُوۡعِ وَنَقۡصٍ مِّنَ الۡاَمۡوَالِ وَالۡاَنۡفُسِ وَالثَّمَرٰتِ ؕ وَ بَشِّرِ الصّٰبِرِیۡنَ ﴿۱۵۵﴾

(پاره:2، البقره: 155)

مفهوم ترجَمۀ کنزُ الایمان: او ضرور به مونږ په تاسو ازمیښت کوو د څه ویرې او د څه لوږې سره او د څه مالونو او ځانونو او په میوو کښې د کمي سره او زیرے ورکړه دغه صبر کوونکو له.

د دې آیت لاندې په تفسیرِ نعیمي کښې دي: اے مسلمانانو! تاسو بهترین اُمَّت ئې او د لویو امتحان هم لوئے وي، ځکه به په ډیرو مضمونونو کښې ستاسو امتحان اخستے کیږي، کله د دُښمن د ویرې سره، کله د قحط سالۍ سره، کله د غریبۍ او لوږې سره، کله په مال کښې د کمي سره، کله د اولاد، مور و پلار، خپلوانو او د دوستانو په وفات کیدو سره، کله ستاسو د باغونو، فصلونو او میوو وغیره کښې د کمي سره، غرض: ستاسو د امتحان دومره پرچے دي، په هره پرچه کښې پوره نمبرې حاصلې کړئ![1]

پوره نمبرې څنګه حاصلول دي؟ د صبر کولو سره. الله پاک فرمائي:

وَبَشِّرِ الصّٰبِرِیۡنَ ﴿۱۵۵﴾

(پاره:2، البقره: 155)

مفهوم ترجَمۀ کنزُ الایمان: او زیرے ورکړه دغه صبر کوونکو له.

---

[1]...تفسیر نعیمی، پاره:2، سورۀ بقره، زیرِ آیت:155، جلد:2، صفحه:96 خلاصةً۔

معلومه شوه چې کله مصيبت راشي، پريشاني راشي، درد او غم راشي نو دې امتحان کښې به کاميابي څنګه ميلاويږي؟ د شور کولو سره نه، د چغو او سورو کولو سره نه، په پريشانو د ژړلو سره نه بلکه په دې امتحان کښې د صبر کولو سره، د الله پاک په رضا باندې د راضي کيدو سره نصيب کيږي.

چپ رِہ سیں تاں موتی مل سَن، صبر کرِیں تاں ہیرے
پاگلاں وانگوں رولا پاویں نہ موتی نہ ہیرے

وضاحت: چې چپ پاتې شې نو لعلونه به ميلاويږي، چې صبر اوکړې نو ملغلرې به ميلاويږي او که د ليونو په شان شور کوې نو که د مصيبت نه خلاصيږې او که نه، د لعلونو او ملغلرو (يعنې د آخرت د ثواب نه به ضرور) محرومه شې.

## صابر چا ته وئيلے شي؟

راځئ! په دې باندې ځان پوهه کړئ چې صابر [يعني صبر کوونکے] چا ته وئيلے شي، الله پاک فرمائي:

الَّذِيْنَ اِذَاۤ اَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ ۙ قَالُوْۤا اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّاۤ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ﴿۱۵۶﴾
(پاره:2، سورۀ بقره:156)

مفهوم ترجَمۀ کنزُ العرفان: هغه خلق په کومو باندې چې کله څه مصيبت راشي نو وائي: مونږه د الله يو او مونږه د هغه په لور ګرځيدونکي يو.

سُبْحٰنَ الله! دا دې په حقيقت کښې صبر کوونکي چې کله په هغوئي باندې څه سختته، څه پريشاني راشي نو چغې سورې نه وهي، ګيلې شکوے نه کوي بلکه وائي: اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْن بے شکه مونږ د الله يو او د هغه په لور بيرته تلل دي.

## اِنَّا لِلّٰه د دې اُمَّت خصوصيت دے

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دا ښکلې کلمه يعنې اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيۡهِ رَاجِعُوۡن ډيره برکت والا ده. د مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: زما اُمَّت ته د مصيبت د وخت د پاره يو داسې څيز ورکړے شوے دے کوم چې مخکښينو اُمتونو ته نه دے عطا شوے او هغه کلمه ده اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيۡهِ رَاجِعُوۡن.[1] په تفسيرِ روحُ المَعاني کښې دي: دې اُمت ته د مصيبت د وخت د پاره يو داسې څيز ورکړے شوے دے کوم چې مخکښينو نبيانو ته هم نه وو عطا کړے شوے او هغه کلمه اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيۡهِ رَاجِعُوۡن ده.که دا کلمه مخکښينو نبيانو ته ورکول وو نو حضرت يعقوب عَلَيۡهِ السَّلَام ته به ضرور ورکيدله چې هغوئي د خپل ځوي حضرت يوسف عَلَيۡهِ السَّلَام په جدائي باندې

| يٰٓاَسَفٰى عَلٰى يُوۡسُفَ (پاره:13، يوسف:84) | مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان: هائے افسوس د يوسف په جدائي باندې |
|---|---|

اووئيل (که دا کلمه هغوئي له ورکړے شوي وه نو ضرور به ئې اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَيۡهِ رَاجِعُوۡن وئيلے.[2]

## په مصيبت کښې د اِنَّا لِلّٰه وئيلو فضيلت

که مونږه د مصيبت په وخت اِنَّا لِلّٰه لولو نو په دې باندې به اجر څه ميلاويږي؟ اللّٰه پاک فرمائي:

---

[1] ...معجمِ کبير، جلد:6، صفحه:37، حديث:12241۔

[2] ...تفسير روح المعانى، پاره:2،البقره، زيرِ آيت:156، جز:2، جلد:1، صفحه:576۔

اُولٰٓىِٕكَ عَلَیْهِمْ صَلَوٰتٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَ رَحْمَةٌ ۫ وَ اُولٰٓىِٕكَ هُمُ الْمُهْتَدُوْنَ(۱۵۷)

(پاره:2، سورة بقره:157)

مفهوم ترجَمۂ کنزُ العرفان: دا هغه خلق دي په کومو باندې چې د دوئي د رَبّ له طرفه درودونه دي او رحمت او هم دا خلق هدايت موندونکي دي.

يعنې په مصيبت باندې د صبر کولو سره د اِنَّا لِلّٰه وئيلو په برکت به دوئي ته يو دوه نه بلکه 3 انعامونه ميلاويږي: (1) په دوئي باندې به د الله پاک درودونه راوريږي (يعنې د دوئي ګناهونه به معاف کولے شي، په دوئي باندې به خاص عنايات وي او په دنيا او آخرت کښې به دوئي ته عزت او عظمت عطا کولے شي) (2) بيا به په دوئي باندې د الله پاک رحمت هم راوريږي (3) او دريم فضيلت دا چې دا خلق په دنيا او آخرت کښې په پوره هدايت باندې دي،[1] په دنيا کښې داسې چې په هر حالت کښې به (يعنې په خوشحالۍ کښې د شکر کولو او د مصيبت په وخت کښې د صبر کولو سره) د رَبِّ کريم په نزدې والي کښې کاميابيږي او په آخرت کښې به داسې چې څوک خو د نيکو کولو سره جنت ګټي، څوک د ګناهونو نه د بچ کيدو سره د دوزخ نه بچ کيږي خو دا صبر کوونکي، په مصيبت باندې اِنَّا لِلّٰه لوستونکي به د الله پاک په رضا موندلو کښې کاميابيږي.

## د ځوي په وفات باندې ئې ښې جامې واغوستلې

حضرت ثابت بناني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يوه ورځ د تابعي بزرګ حضرت مُطَرِّف رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ځوي وفات شو (ظاهره ده د ځوي وفات کيدل، ډير لوئے غم وي خو حضرت مُطَرِّف رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دې باندې کمال صبر اوکړو)، هغوئي هغه وخت هم ښې جامې اچولې وې او د سر

[1]... تفسيرِ نعيمى، پاره:2، البقره، زيرِ آيت:157، جلد:2، صفحه:98 بتغير قليل۔

ویښته ئې غوړ کړي وو. خلقو هغوئ ته اووئیل: ستاسو ځوي وفات شوے دے او تاسو د سر ویښته غوړ کړي، ښې جامې مو اچولې دي؟ هغوئ اوفرمائیل: نو آیا زه د کم همتئ اظهار اوکړم؟ (د بے صبرئ نه کار واخلم)؟ زما په صبر کولو باندې الله پاک زما سره د 3 انعامونو وعده فرمائیلې ده او په هغې کښې هر انعام زما د ټولې دنیا نه زیات خوښ دے. الله پاک فرمائي: [1]

اَلَّذِیْنَ اِذَاۤ اَصَابَتْهُمْ مُّصِیْبَةٌ ۙ قَالُوْۤا اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّاۤ اِلَیْهِ رٰجِعُوْنَ ﴿۱۵۶﴾ اُولٰٓىٕكَ عَلَیْهِمْ صَلَوٰتٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَ رَحْمَةٌ ۫ وَ اُولٰٓىٕكَ هُمُ الْمُهْتَدُوْنَ ﴿۱۵۷﴾

(پاره:2، سورهٔ بقره:156تا 157)

مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان: هغه خلق کله چې په هغوئ باندې څه مصیبت راځي نو وائي: مونږه د الله یو او مونږ د هغه په لور بیرته کرځیدونکي یو دا هغه خلق دي په کومو باندې چې د دوئ د رَبّ له طرفه درودونه دي او رحمت او هم دغه خلق هدایت موندونکي دي.

آنکھیں رورو کے سُجانے والے | جانے والے نہیں آنے والے [2]

وضاحت: اے د چا د تلونکي په غم کښې په ژړا ژړا خپلې سترګې خرابوونکیه! کوم چې لاړو [یعني وفات شو] هغه خو به بیرته نه راځي بلکه مونږ به هم په هغه پسې ځو.

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د الله والؤ انداز څانګړے وي، خیر! دا خو مشکله خبره ده چې مونږ په مصیبت راتللو هم خوشحاله شو، که نه غواړو بیا هم بعضې ځل په زړه باندې غم راخور وي، په سترګو کښې اوښکې راځي. دا خیر دے، البته مونږ

[1]… مختصر منهاجُ القاصدین، کتاب الصبر و الشکر، صفحه:277۔

[2]… حدائقِ بخشش، صفحه:160۔

له صبر ضرور کول پکار دي، ځکه چې کله هم څه سخته، پریشاني یا مصیبت راشي نو د شور کولو، د خپلو جامو شلولو، ویښتو راشوکولو، غوغا کولو په ځائے د صبر کولو سره اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیۡهِ رَاجِعُوۡن لولئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم! ډیر زیات ثواب به مو کیږي.

## د الله پاک رحمت ورکوونکے عمل

د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰه عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د مصيبت په وخت اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیۡهِ رَاجِعُوۡن لوستل د الله پاک د رحمت ميلاويدو ذريعه ده.[1]

## په دنيا او آخرت کښې د سعادت مند جوړيدو نُسخه

حضرت عبد الله بن عَمرو رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ فرمائي: 5 عادتونه داسې دي چې څوک هم دا اختيار کړي هغه په دنيا او آخرت کښې سعادت مند کيږي (1) وخت په وخت، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوۡلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وائي (2) چې کله په څه مصيبت کښې ګير شي (مثلاً بيمار شي يا نقصان اوشي يا د پريشانئ خبر واوري) نو اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیۡهِ رٰجِعُوۡن او لَاحَوۡلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الۡعَلِیِّ الۡعَظِیۡم وائي (3) او کله چې ورته هم څه نعمت ميلاو شي نو په شکرانه کښې اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡن وائي (4): کله چې يو جائز کار شروع کوي نو بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم لولي او (5) کله چې ګناه اوکړي نو داسې وائي چې اَسۡتَغۡفِرُ اللّٰهَ الۡعَظِیۡمَ وَ اَتُوۡبُ اِلَیۡهِ (يعنې زه د عظمت والا الله پاک نه بخښنه غواړم او د هغه په لور توبه کووم.)[2]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اندازه اولګوئ! دا څومره آسان آسان کارونه دي، وخت په

---

[1] ...کنز العمال، کتاب الاخلاق، جز:3، جلد:2، صفحه:122، حديث:6643 ماخوذًا۔

[2] ...اَلۡمُنَبِّهات لِلۡعَسۡقَلانی، باب الخماسی، صفحه:47۔

وخت کلمه طيبه لوستل، چې کله هم څه پريشاني راشي نو اِنَّا لِلّٰه وئيل دي، په نعمت ميلاويدو باندې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وئيل دي، د هر جائز کار نه مخکښې بِسْمِ الله وئيل دي او الله دې نه کړي که ګناه اوشي نو اِستِغفار لوستل دي، د دې برکتونه به څه وي؟ بنده به په دنيا او آخرت کښې سعادت مند شي.

وہ تو نہایت سستا سودا بیچ رہے ہیں جنّت کا
ہم مفلس کیا مول چُکائیں؟ اپنا ہاتھ ہی خالی ہے [1]

## د اِنَّا لِلّٰه په برکت باندې به په جنت کښې بيتُ الحمد ميلاؤ شي

حضرت اَبُو سِنَان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زما ځوي سِنَان وفات شو، کله چې مونږ هغه دفن کړو، هغه وخت حضرت ابو طلحه خولاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د قبر په غاړه ولاړ وو، د خخولو نه وروستو چې کله خلق لاړل، ما هم کور ته د تللو اراده اوکړه نو هغوئي زما لاس اونيولو او ما له ئې د تسلئ راکولو سره اوفرمائيل: اے ابُو سِنانه! زه تاسو له يوزيرے درکړم؟ ما ته ضحّاک حديث اووئيلو چې د الله پاک د آخري نبي،رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشادِ پاک دے: کله چې د انسان ځوي وفات شي نو الله پاک د فرښتو نه پوښتنه کوي: آيا تا زما د بنده د ځوي رُوح قبض کړو؟ فرښتې وائي: جي هاں! الله پاک فرمائي: آيا تا د هغه د زړه ميوه د هغه نه جدا کړه؟ فرښتې وائي: جي هاں! الله پاک فرمائي: په دې باندې زما بنده څه اووئيل؟ فرښتې وائي: هغه ستا حمد بيان کړو او اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رٰجِعُوْن ئې اووئيل. په دې باندې الله پاک فرمائي: زما د بنده د پاره په جنت کښې يو کور جوړ کړه او د هغه

[1]... حدائقِ بخشش، صفحه:186۔

[کور] نوم **بَیتُ الحمد** کېږده![1]

سُبْحٰنَ الله! څومره عظیم فضل دے، څوي هم الله پاک راکړے وو، هم د هغه مِلک [ملکیت] وو، هغه بیرته واخستو، بنده صرف په دې باندې صبر اوکړو، اِنَّالِلّٰه اووئیله، په دې باندې څه انعام دے؟ په جنت کښې به خاص محل جوړولے شي، د کوم نوم چې به **بَیتُ الحمد** وي.

اے عاشقانِ رَسُول! که څوي وفات شي یا څوک خپل خپلوان، ډیر خوږ دوست د دُنیا نه لاړ شي، په دې باندې صبر کول پکار دي، که بے صبري کوې، غوغا کوې، ویښته شوکوې، ګریوان شلوې، د چغو او سورو وهلو سره شور کوې نو څه به اوشي؟ تلونکے خو تلے دے، هغه خو به اوس بیرته نه راځي، آو! د بے صبرئ کولو په وجه به د صبر ثواب هم د لاس نه ځي. ځکه مونږ له پکار دي چې د صبر کولو سره اِنَّالِلّٰه اولولو، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! ډیر ثواب به مو کیږي او که الله پاک اوغوښتل نو د جنت حقدار به جوړ شو.

## د اِنَّا لِلّٰه په برکت سره بهترینه بدله میلاویږي

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** په مصیبت باندې د اِنَّا لِلّٰه لوستلو یو لوئے برکت دا هم دے چې دې سره مصیبت لرې کیږي او الله پاک هم په دنیا کښې ښه بدله عطا کوي. په حدیثِ پاک کښې دي، د نبیانو نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: څوک چې د مصیبت په وخت اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَیْهِ رٰجِعُوْن وائي الله پاک د هغه نه پریشاني لرې کوي، د

[1]... ترمذی، کتاب الجنائز، باب فضل المصیبة اذا احتسب، صفحه: 267، حدیث: 1021۔

هغه انجام ښه کوي او هغه له داسې بدله ورکوي په کومه چې هغه راضي کيږي.[1]

په يو حديث شريف کښې دي: "په کوم مسلمان باندې چې څه مصيبت راشي او هغه د الله پاک د حکم مطابق اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَيۡهِ رٰجِعُوۡن (اووائي او دا دعا اوکړي) اللّٰهُمَّ أَجُرْنِيْ فِيْ مُصِيبَتِيْ وَاَخْلِفْ لِيْ خَيْرًا مِّنْهَا يعنې اے الله! زما په دې مصيبت باندې ما له اجر راکړې او ما ته د دې نه بهتره بدله عطا کړې" نو الله پاک به هغه ته د دې نه بهتر عطا کړي.[2]

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په شرح کښې فرمائي: دا عمل ډير مُجَرَّب (تجربه شوے) دے. چې په وفات شوي مړي او ورک شوي څيز هر څه باندې دې اووئيلے شي خو د کوم ورک شوي څيز د ميلاويدو چې طمع وي په هغې باندې دې د رٰجِعُوۡنَ پورې اووائيلے شي او د څه نه چې مايوسه شوے وي په هغې باندې دې پوره اولوستلے شي، خو ضروري دا ده چې په ژبه باندې دا الفاظ وي او په زړه کښې صبر وي.[3]

## د ځوي په وفات باندې بے مثاله صبر

حضرت بي بي اُمّ سُليم رَضِيَ اللهُ عَنْهَا صحابيه ده. په رشته کښې د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترور [د مور خور] کيدله، ډيره نيکه، پرهيزګاره، صبر کوونکې او شکر کوونکې زنانه وه، د هغې يو ځوي وو: اَبُو عُمَير. اولاد په ټولو ګران وي، د هغوئي هم د حضرت ابو عُمَير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره ډيره مينه وه، خاص طور د هغوئي د والد حضرت ابو

---

[1]... معجمِ کبير، جلد:6، صفحه:155، حديث:12852۔

[2]... مسلم، کتاب الجنائز، باب يقال عند المصيبة، صفحه:329، حديث:918۔

[3]... مرآة المناجيح، جلد:2، صفحه:445۔

طلحه انصاري رضی اللہ عنہ د خپل ځوي سره ډېره مينه وه، د خدائے شان وو چې يو ځل حضرت ابو عُمَير رضی اللہ عنہ ناروغه شو او بيماري ورځ په ورځ زياتيدله.

ځوي خو ئې بيمار وو، دې سره سره حضرت ابو طلحه انصاري رضی اللہ عنہ هم د ځوي په غم غمژن کيدلو، خو قربان شم! د صحابهٔ کرامو علیہم الرضوان د نيکئ سره محبت صد مرحبا...!! په کور کښې ئې ځوي بيمار وو، د دې باوجود به حضرت ابو طلحه انصاري رضی اللہ عنہ پينځه واړه لمُونځونه په جُمات کښې د جَمعې سره ادا کول، د مکي مدني تاجدار صلی اللہ علیہ والہ وسلم په درس کښې به ئې شرکت کولو، قرآنِ کريم به ئې زده کولو، حديثونه به ئې په پابندئ سره اوريدل، غرض دا چې د ځوي د بيماريدو او د هغه د غم باوجود د هغوئي په ديني مصروفياتو کښې هيڅ کمے رانغلے.

يو ځل حضرت ابو طلحه انصاري رضی اللہ عنہ په جُمات کښې وو چې د هغوئي ځوي حضرت ابو عُمَير رضی اللہ عنہ وفات شو.[1]

اوس د مور يو بے مثاله صبر ته اوګورئ! حضرت اُمِّ سُليم رضی اللہ عنہا ځوي په يوه کمره کښې سملولو،[2] د پاسه ئې پرې څادر واچولو او کور والؤ ته ئې اووئيل چې څوک دې هم د ده پلار حضرت ابو طلحه رضی اللہ عنہ د ده د وفات کيدو نه نهٔ خبروي، د دې نه به ئې زه پخپله خبرووم.[3] د شپې حضرت ابو طلحه رضی اللہ عنہ کور ته راغلے، د ځوي د طبيعت پوښتنه ئې اوکړه نو حضرت اُمِّ سُليم رضی اللہ عنہا اووئيل: طبيعت ئې ښه دے، د کله نه چې

---

[1]... مسندِ امام احمد، جلد:5، صفحه:516، حديث:13202۔

[2]... عمدة القاری، کتاب الجنائز، باب من لم يظهر ... الخ، جلد:6، صفحه:135، تحت الحديث:1301 ملتقطًا۔

[3]... مسندِ ابی يعلیٰ، جلد:3، صفحه:133، حديث:3398۔

بیمار شوے دے، د نن په شان په سکون کښې چرې هم نه وو. بیا هغوئي خاوند له ډوډئ راوړله، د هغوئي ئې ښه خدمت اوکړو، اوئې کتل چې اوس حضرت ابو طلحه رضی اللہ عنہ په آرام سره او مطمئين دے نو اوئې وئيل: دا اووائې! چې یو کاؤندي څه څيز په عارضي طور واخلي، بیا د هغه نه هغه څيز بیرته اوغوښتلے شي نو که هغه شور شروع کړي نو د هغه داسې کول څنګه دي؟ حضرت ابو طلحه رضی اللہ عنہ اوفرمائيل: دا خو ډیره بده خبره ده، کوم څيز ئې چې په عارضي طور باندې اخستے دے، هغه څيز بیرته ورکول پکار دي. حضرت اُمِّ سُلیم رضی اللہ عنہا اووئيل: اللّٰه پاک د امانت په طور باندې مونږ له یو ځوي راکړے وو، نن هغه بیرته واخستلو.

اَللّٰهُ اَکْبَر! د یوې مور دا څومره عظیم صبر دے؟ حضرت اُمِّ سُلیم رضی اللہ عنہا څومره د همت مظاهره اوکړه او څومره په حکمت سره ئې د غم نه خبر کړو...!! سُبْحٰنَ اللّٰه! حضرت ابو طلحه رضی اللہ عنہ چې کله داسې د حکمت نه ډکې خبرې واوریدلې نو هغوئي هم صبر اوکړو، هغوئي د اللّٰه پاک حمد بیان کړو او اوئې وئیل: اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَیْهِ رٰجِعُوْن.[1]

په بَله ورځ هغوئي په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شول، ټوله خبره ئې عرض کړله، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم د دعا کولو سره اووئیل: اے اللّٰه پاکه! دوئي ته د دوئي په شپه کښې برکت عطا کړې.

د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم د دعا دا اثر اوشو چې د دې واقعې لا یو کال هم نه وو شوے چې اللّٰه پاک هغوئي له یو ښکلے ځوي ورکړو، د هغه نوم هغوئي عبد اللّٰه

[1]... صحیح ابنِ حبان، کتاب اخبارہ... الخ، ذکر وصف تزوج ابی طلحۃ ام سلیم، صفحه:1925، حدیث:7187۔

کیښودو.[1] راوي وائي: د دوئي حضرت عبد الله رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په اولاد کښې ډېر لوئے لوئے عالِمَان پیدا شول، داسې د دوئي د دې بے مثاله صبر دوئي ته بهترینه بدله عطا شوه، ځوي ورته هم میلاؤ شو او د هغوئي کور د علماؤ نه ډَک شو.[2]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! الله پاک ډېر بے نیازه دے، هغه ورکوونکے دے، که مونږه د هغه په حکم باندې عمل اوکړو، د هغه په رضا باندې راضي اوسو، که مصیبت راشي، پریشاني راشي، سخته راپیښه شي نو صبر اوکړو، اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَیۡهِ رَاجِعُوۡن اولولو، اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! په مصیبت کښې به آساني میلاؤ شي، ډېر ثواب به مو اوشي او که الله پاک اوغوښتل نو په بهترینه بدله کښې به عطا را کړے شي.

## په هر مصیبت باندې اِنَّا لِلّٰه لولئ!

دلته عام طور د خلقو ذهن دا جوړ شوے دے چې صرف د چا په وفات باندې اِنَّا لِلّٰه لوستل وي، بعضې ځل په یوه موقع باندې چې اِنَّا لِلّٰه اولولې نو خلق د حیرانیدو سره پوښتنه کوي: څه اوشو؟ څوک وفات شو؟ یاد ساتئ! دا مبارکه کلمه صرف د چا په وفات یا په څه غټ مصیبت باندې نه لوستلے کیږي، په هر قِسمه سخته او پریشانئ کښې لوستلے کیدے شي. ځکه چې کله هم ناروغي، قرضداري، بے روزګاري یا څه بَل څه آفت راشي، څه څیز ورک شي، د چا په خبره اوریدو باندې خفګان میلاؤ شي، څوک مو اووهي، زړه خفه شي، تیندک اوخورئ، ګاډے خراب شي، ټریفک جام شي، په کاروبار کښې نقصان اوشي، د لاس نه دې څه څیز پریوځي، جامې په څه څیز کښې اونخلي او

[1] ... مسلم، کتاب فضائل الصحابه، باب من فضائل ابي طلحه، صفحه: 957، حدیث: 2144۔

[2] ... عمدة القاری، کتاب العقیقة، باب تسمیة المولود... الخ، جلد:، صفحه: 466، تحت الحدیث: 5470۔

اوشليږي، الغرض: څه قسمه وړوکے يا غټ مصيبت راشي نو په دې د صبر کولو سره، د اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَيْهِ رٰجِعُوْن لوستلو عادت جوړ کړئ!

## په ډيوه مړه کيدو سره ئې اِنَّا لِلّٰه اووئيل

د حضرت عکرمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې يو ځل شپه وه، خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم تشريف فرما وو، ناڅاپه ډيوه مړه شوه، په دې باندې هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اووئيل:اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّاۤ اِلَيْهِ رٰجِعُوْن. ما عرض اوکړو: آيا دا هم مصيبت دے؟ اوئې فرمائيل: هر هغه څيز کوم چې مؤمِن ته تکليف اورسوي، هغه مصيبت دے او په دې باندې اجر ورکړے کيږي.[1]

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه: چې په هر وړوکي غټ تکليف باندې د اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَيْهِ رٰجِعُوْن وئيلو سره ثواب ګټلے کيدے شي. نور د دې حديثِ پاک نه دا دَرس هم ميلاويږي چې که چرې ناڅاپه بجلي لاړه شي نو په دې باندې هم مونږ له صبر کول پکار دي، دلته عام طور په بجلئ تللو باندې ډير د بے صبرئ نه کار اخستے شي، خلق پته نه لګي څه ګډې وَډې وائي، بعضې نادانه خو مَعَاذَالله! بجلئ ورکوونکو ادارو ته کنزلې کوي، الله پاک دې زمونږ په حال باندې رحم اوکړي. صبر کول پکار دي، که ناڅاپه بجلي لاړه شي نو که په دې باندې اِنَّالِلّٰه اولوستلے شي نواِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ثواب به مو کيږي.

## د پيزار په تسمه شليدو باندې اِنَّا لِلّٰه لولئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! که چرې په لاره په مزل کولو کښې ناڅاپه پيزار

---

[1]... تفسير درِ منثور، پاره:2، البقره، زيرِ آيت:156، جلد:1، صفحه:380۔

اوشليږي نو په دې باندې هم صبر کوئ او د اِنَّا لِلّٰه وئيلو سره ثواب ګټئ. د صحابئ رسول حضرت ابو هريره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کله چې په تاسو کښې د چا د پيزار تسمه اوشليږي نو هغه دې اِنَّالِلّٰه وائي، بے شکه دا هم يو مصيبت دے.[1] (مسند بزاز)

## په تير شوي مصيبت باندې د اِنَّا لِلّٰه وئيلو فضيلت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رٰجِعُوْن وئيلو يو بل ډير اهم برکت دا دے چې کله مصيبت راشي، هغه وخت مونږ اِنَّالِلّٰه اووئيل، په دې باندې به خو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ثواب خامخا حاصليږي، د دې سره سره که مصيبت تير شوے وي، مثلاً کلونه مخکښې څه مصيبت راغلے وو، هغه وخت مو په دې باندې صبر کړے وو، اوس کلونه پس هسې په ناسته ناسته راياد شو چې په فلانکي وخت کښې ما ته دا سخته راپيښه شوې وه، که بنده په دغه وخت بيا اِنَّالِلّٰه اولولي نو اوس به بيا هم هغه ثواب حاصليږي کوم چې د مصيبت راتللو په وخت شوے وو. د امامِ عالي مقام، امام حُسَين رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: که يو مسلمان نارينه يا زنانه ته څه مصيبت پيښ شو او هغه زوړ شو (يعني کلونه ئې اوشول)، اوس بيا چرته د هغه مصيبت په را ياديدو اِنَّالِلّٰه اولولي نو الله پاک به ورته ثواب عطا کوي کوم چې په مصيبت راتللو ميلاو شوے وو.[2]

---

[1]... مسندِ بزار، جلد:8، صفحه:400، حديث:3475۔

[2]... مسندِ امام احمد، جلد:1، صفحه:545، حديث:1760۔

په روایت کښې دي: که د مصیبت د راتللو 40 کاله پس بیا مصیبت رایاد شي، هغه وخت ئې اِنَّالِلّٰه اولوستل بیا به هم هغه ثواب ورکړے کیږي.[1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! غور اوکړئ! دا د اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَيْهِ رٰجِعُوْن لوستلو څومره برکتونه دي. الله پاک دې مونږ ته په هره وړه او غټه پریشانئ باندې د صبر کولو، د الله پاک په رضا باندې د راضي کیدو سره د اِنَّالِلّٰه لوستلو توفیق نصیب کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## بد فال مه نیسئ!

اے عاشقانِ رَسُول! زمونږه دا عقیده ده چې وَالْقَدْرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللهِ تَعَالٰى هر ښه او بد تقدیر د الله پاک له طرفه دے. د دې واضحه مطلب دا دے چې که مونږ ته خوشحالي میلاؤ شي یا غم، خوشحالي راشي یا پریشاني، صحت میلاؤ شي یا بیماري، مالداري راشي یا غریبي، هر څه د الله پاک له طرفه دي.

خو د معاشرې حالت عجیبه دے، دلته خلق بد فالي نیسي ❁ نن دکان ته څه ګاهک رانغلے نو بد فالي ❁ که کار ښه نه وي روان نو بد فالي ❁ سترګه اورپیږي نو بد فالي ❁ چرته د تللو سره په لاره کښې څه سخته راپیښه شي نو بد فالي ❁ څه مصیبت راغلے، څه سخته، پریشاني راغله نو بد فالي، مختلفې خبرې، مختلف وهمونه او بد فالئ هسې په زړونو کښې ساتلے شي، مثلاً ❁ سحر وختي د چا ړوند سره ملاقات اوشو ❁ یوے سترګې والا ګس مخې ته راغلے ❁ خوک شَل [ګوډ] میلاؤ شو ❁ تور کارغه یا پیشو په مخه تیره شوه ❁ کار له د تللو په وخت په لاره کښې مو څه بد آواز واوریدو نو بد فالي

[1]... تفسیردرِ منثور، پارہ:2، البقرہ، زیرِ آیت:156، جلد:1، صفحه:378۔

نیولے شي چې اوس به زما کار نه کیږي ❀ ورځې په بد فال نیولے شي ❀ د ایمبولینس په آواز سره ❀ د فائر بریګیډ د آواز سره بد فالي نیولے شي ❀ کله په اخبارونو کښې د چاپ کیدونکو ستورو د لوبې سره خپل ژوند غمژن کولے شي ❀ بعضې خلق د میلمه د رخصتیدو نه پس په کور کښې جارو وهل سپیره والے ګڼي ❀ که ښځ سترګه اورپیږي نو یقین کولے شي چې څه مصیبت به راځي ❀ د اختر جُمعې په ورځ شي نو دا په حکومتِ وخت درنه ګڼلے شي ❀ د پیشو د ژړا آواز سپیره ګڼلے شي ❀ که بانګې د ورځې بانګ اوکړي نو په بد فالئ کښې اخته کیږي تر دې چې هغه ذبح کوي ❀ که د دکان نه وړومبے ګاهک د سودا اخستلو نه بغیر لاړ شي نو دکاندار دا په بد فالئ نیسي.

الله پاک دې زمونږ په حال باندې رحم اوکړي، دا صرف وهمي خبرې دي، د دې نه بچ کیدل لازمي دي، کله چې هم څه مصیبت راشي، پریشاني راشي، سخته راشي، څه کار اُلټا اوشي، دکان ته ګاهک رانغلے، په دفتر کښې کار صحیح اونشو، بیمار شو، خدائے دې نه کړي که چرې غلا وغیره اوشوه نو په الله پاک باور اوکړئ! صبر اوکړئ! اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رٰجِعُوْن اولولئ او ثواب اوګټئ! د بد فالئ سره به څه اوشي؟ هیڅ هم نه، مصیبت خو هغه کوم چې راغلے دے، چې بد فالي نیسئ نو د صبر کولو او د اِنَّا لِلّٰه لوستلو ثواب به مو د لاسونو نه اوځي، هغه خو به اوځي، اُلټا به مو د بد فالئ نیولو ګناه بیله کیږي ځکه چې بد فالي حرامه او دوزخ ته بوتلونکے کار دے.

## د بد فالئ په باره کښې 4 فرامینِ مصطفٰے ﷺ

❀ زمونږ خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے اوفرمائیل: لَیْسَ مِنَّا مَنْ تَطَیَّرَ وَلَا تُطُیِّرَلَهٗ چا چې بد فالي اونیوله او د څه د پاره چې بد فالي اونیولے شوه هغه زمونږ نه نهٔ دے.[1] ❀ زمونږ نبـي،

[1]... مُسْنَدِ بَزَّار، جلد:9، صفحه:52، حدیث:3578۔

رښتيني نبي، ښه نبي، آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: چا چې فال اوکتلو يا ئې د غشو په ذريعه فال اويستو يا د بد فالئ په وجه د سفر نه را واپس شو نو هغه ګَس کله هم اوچتې درجې ته نشي رسيدے.[1] ❁ نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 3 ځل اوفرمائيل: اَلطِّيَرَةُ شِرْكٌ، اَلطِّيَرَةُ شِرْكٌ، اَلطِّيَرَةُ شِرْكٌ بد فالي نيول شرک دے، بد فالي نيول شرک دے، بد فالي نيول شرک دے، بيا ئې اوفرمائيل: په مونږ کښې هر يو ګَس ته داسې (يعني د بد فالئ په شان) خيال راځي خو اللّٰه پاک د تَوَکُّل په ذريعه هغه خيال لرې کوي.[2]

د دې حديثِ پاک لاندې علمائے کرام فرمائي: د جاهليت په زمانه کښې به خلقو بد فالي نيوله، د هغوئي دا عقيده وه چې د بد فالئ په تقاضو باندې د عمل کولو سره دوئي ته فائده حاصليږي د مثال په طور يو ګَس د کار د پاره اووتلو او په لاره کښې پيشو د هغه په مخه باندې تيره شوه، اوس که چرې دے را واپس شو نو د جاهليت په زمانه کښې د خلقو عقيده وه چې د داسې کولو سره مونږ ته فائده حاصليږي، ځکه په حديثِ پاک کښې بد فالي شرک اوګرځولے شو، که يو بنده صرف بد فالي اونيسي او ورسره دا عقيده هم لرې چې کيږي هغه څه کوم چې اللّٰه پاک غواړي، د دې نه علاوه د دنيا يو طاقت هم د اللّٰه پاک د خوښې خلاف هيڅ هم نشي کولے، په دې حالت کښې بد فالي نيول شِرکِ خَفِي (يعني د ګناه کار دے) او که څوک بنده دا عقيده اوساتي چې که چرې مثلاً ستورې په خپل طاقت سره، د اللّٰه پاک د خوښې خلاف هم اثر کولے شي، دې شکل کښې دا بد فالي نيول شرکِ جَلِي دے کوم چې کُفر دے.[3] ❁ سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: مَنْ رَدَّتْهُ الطِّيَرَةُ عَنْ شَيْءٍ فَقَدْ قَارَفَ الشِّرْكَ کوم ګَس

---

[1] ... مجمعُ الزّوائِد، جلد:5، صفحه:144، حديث:8487۔

[2] ... ابوداؤد، کتابُ: الطِّبْ، باب في الطيرة، صفحه:615، حديث:3910۔

[3] ... مِرْقاة شرح مشکوٰة، کتابُ: الطِّب، جلد:8، صفحه:398، زيرِ حديث:4584۔

چې د بد فالۍ په وجه د څه څیز نه منع شي هغه په شرک کښې خړوب شو.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! **بد فالي** (دا ده چې د څه څیز (مثلاً کَس، عمل، آواز یا وخت) سره بد فالي نیول (یعنې دا ګڼل چې د دې دا نحوست [سپره والے] به د چا په حالاتو باندې غلط اثر غورځوي) بد فالي ده)[2]

د بد فالۍ په باره کښې د تفصیلي معلوماتو د پاره د مکتبة المَدینه کتاب **بد شګونی** پخپله هم اولولۍ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړۍ.

## د اِنَّا لِلّٰه په معنٰی باندې هم غور اوکړۍ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د نن نه خپل پوخ ذهن جوړ کړۍ چې کله هم څه پریشاني یا مصیبت راځي، که هغه معمولي شان پریشاني ولې نه وي، مونږ به د الله پاک په رضا باندې د راضي کیدو سره د ثواب ګټلو د پاره اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَیۡهِ رٰجِعُوۡن لولو. اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم!

د اِنَّا لِلّٰه لوستلو سره د دې په معنٰی باندې ضرور غورۍ کوۍ! اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَیۡهِ رٰجِعُوۡن 2 جملے دي: (1) اِنَّا لِلّٰه دا یوه جمله ده، او (2) وَاِنَّاۤ اِلَیۡهِ رٰجِعُوۡن دا بَله جمله ده. په دې دواړو جملو کښې زمونږ د پاره بهترین پیغام دے، که چرې مونږ په دې پیغام باندې ځان پوهه کړو، مونږ دا د خپل ژوند برخه جوړه کړو نو اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! دنیا به مو هم ښه شي او آخرت به مو هم ښه شي.

د اِنَّا لِلّٰه معنٰی ده: مونږ هم د الله یو. او د وَاِنَّاۤ اِلَیۡهِ رٰجِعُوۡن معنیٰ ده: او مونږه د هغه په لور ګرځیدونکي یو. اِنَّا لِلّٰه د بندګۍ اظهار دے یعنې مونږ وایو چې مونږه بندګان یو، الله

---

[1]... مجمعُ الزَّوائِد، کتابُ الطِّب، جلد:5، صفحه:127، حدیث:8415۔

[2]... النهایه فی غریب الحدیث والاثر، حرف الطاء، باب الطاء مع الیاء، جلد:2، صفحه:134۔

پاک زمونږه خالق دے، هم هغه زمونږه رازق دے، هم هغه زمونږه مالک دے. په وَاِنَّاۤ اِلَیۡهِ رٰجِعُوۡن کښې د دې خبرې اقرار دے چې مونږ ته دلته د همیشه د پاره اوسیدل نه دي، یوه ورځ به راځي چې حضرت ملک المَوت عَلَيْهِ السَّلَام به تشریف راوړي، رُوح به د بدن نه اوځي، بیا به مونږه تیارهٔ قبر ته کوزولے شي، تر څو پورې چې د الله پاک خوښه وي، مونږ به هلته پاتې کیږو، بیا مونږ ته د هغه په بارګاه کښې حاضریدل دي.

دا 2 سبقونه دي: **(1)** زه بنده یم، ځکه ما له پکار دي چې د همیشه د پاره بنده پاتې شم، علّامه شعراني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بندګۍ د ادابو لیکلو سره فرمائي: ❁ کوم چې بنده وي هغه همیشه د خپل مالک په لور متوجه اوسي، د بَل یو څیز اړخ ته مخ نه اړوي ❁ د دنیا عیش و عشرت، مال و دولت، آرام و سکون وغیره زړه ته نه کوزوي، همیشه د خپل خالِق او مالِک جَلَّ شَانُهٗ سره محبت کوي ❁ کوم چې بنده وي همیشه په هر حال کښې د خپل مالک په رضا باندې راضي اوسي ❁ کوم چې بنده وي هغه په هیڅ څیز باندې د خپل ملکیت دعوٰی نه کوي، همیشه دا ګڼي چې زما سره چې څه دي، هغه هم زما د مالک دي، هغه په خپل فضل وکرم باندې ما ته عطا کړي دي، هغه چې کله هم اوغواړي نو زما نه ئې واپس اخستے شي ❁ کوم چې بنده وي هغه په یو څیز باندې هم فخر او غرور نه کوي، چې کوم څه عبادت او اطاعت کوي، هغه همیشه کم ګڼي، کله هم په ریاکارۍ، نورو ته په ښودلو او ځان خوښۍ کښې نه اخته کیږي ❁ او کوم چې بنده وي هغه چرې هم د خپل مالک نافرماني نه کوي.[1]

دا د اِنَّالِلّٰه سبق دے. **(2)** دغه شان په وَاِنَّاۤ اِلَیۡهِ رٰجِعُوۡن کښې د آخرت د فِکر درس دے، چې مونږه هر وخت خپل دا ذهن ساتو چې الله پاک ما ویني، زما هیڅ عمل، څه خیال، څه سوچ، د زړه څه اراده د هغه نه پټه نه ده، ډیر زر ما ته د هغه په حُضُور کښې

1 الانوار القدسیه فی بیان العبودیه، الباب الاول فی بیان آداب۔۔الخ، صفحه :26۔35 خلاصةً

حاضریدل دي، د خپل هر یو عمل جواب به ورکول وي، که دا پوخ ذهن جوړ کړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! زمونږه کردار به هم ښه شي، اخلاق به مو هم ښه شي، د ګناهونو نه د بچ کیدو ذهن به هم جوړ شي، په نیکو کښې به زړه هم اولګي او که الله پاک اوغوښتل نو دُنیا او آخرت به ښه شي. الله پاک دې مونږ له د اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رٰجِعُوْن نه د میلاویدونکو سبقونو په ذهن کښې د کښینولو، معنې ته د توجه ساتلو سره د دې د لوستلو او په دې باندې د عمل کولو توفیق راکړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: هفته وار اجتماع

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! په زړه کښې د مدینے د عشق زیاتولو، د یادِ مدینه، ذِکرِ مدینه کولو، د ګناهونو او د فضولیاتو نه د بچ کیدو، د ښه، او با مقصده، د سنتو نه د ډک او نیکو والا ژوند تیرولو د پاره د عاشقانِ رسول د دیني تحریک دعوتِ اسلامي د دیني ماحول لمن اونیسئ او په 12 دیني کارونو کښې هم ښه پوره برخه واخلئ! د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دین و دنیا بے شمیره خیرونه نصیب شي. په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: هفته واره اجتماع هم ده.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د هر زیارت په ورځ د دعوتِ اسلامي هفته واره د سنتو نه ډکه اجتماع کیږي، چې پکښې تلاوت، نعت، بیان، ذِکر او دعا کیږي او په آخره کښې د زده کولو ښودلو حلقے هم لګولے شي، داسې د هفته وارې اجتماع په ذریعه د نیکو ګټلو او د عِلمِ دین حاصلولو پوره موقع میلاویږي، تاسو هم پوخ نیت اوکړئ چې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د هر زیارت په ورځ به په پابندئ سره ټخپله هم په هفته واره اجتماع کښې شرکت کووم او د نیکئ د دعوت ورکولو سره به نور هم د ځان سره بوځم.

## په ټيبل ټينس باندې د مئين اصلاح څنګه اوشوه...؟

د کراچۍ (پاکستان) د يو اسلامي ورور په باره کښې بيان کړے شوي دي چې هغه د مذهبي ذهن نه لرلو په وجه په فضولياتو کښې د خپل ژوند شپې او ورځې تيرولې، د ګناهونو هم سلسله وه، او دے په ټيبل ټينس ډير مئين وو، چې څنګه به ماښام شو نو په ټيبل ټينس کښې به مصروف شو او بعضې وخت به دا سلسله تر شپې پورې روانه وه، يو ځل د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره تعلق لرونکي يو اسلامي ورور ده ته او د ده سره لوبو کوونکو ته د لمُونځ کولو او په هفته واره اجتماع کښې د شرکت کولو دعوت ورکړو، اسلامي ورونړو ده له پرله پسې د نيکۍ دعوت ورکولو، آخر په ټيبل ټينس مئين دې ګس په هفته واره د سنتو نه په ډکه اجتماع کښې شرکت شروع کړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د هفته وارې اجتماع په برکت په مزه مزه د هغه زړه نرم شو، د هغه د تور زړه نه خيرے په لرې کيدو شو، هغه د خپلو ټولو ګناهونو نه توبه کړه او فضوليات ئې پريښودل او د دعوتِ اسلامي د پاک ديني ماحول لمَن ئې اونيوله.

يہاں سنتيں سيکھنے کو مليں گی
دِلائے گا خوفِ خُدا مدنی ماحول
تُو آ بے نمازی، ہے ديتا نمازی
خُدا کے کرم سے بَنا مدنی ماحول

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنّت فضيلت او د ژوند د ځينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت ، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې

زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د کښيناستو سُنتونه او آداب

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے**: کوم خلق چې تر ډېر وخته پورې په يو ځائے کښې کښيني او بغير د ذِکرُ الله او په نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې بغير د درود وئيلو نه د هغه ځائے نه خواره شي، هغوئي نقصان اوکړو، که الله پاک اوغواړي عذاب ورکړي او که اوغواړي نو اوئې بخښي.[2]

**د ناستې سُنت:** ❀ حضرت ابنِ عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ فرمائي: ما د دواړو جهانونو سردار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کعبې شريفې په دالان کښې د اِحتِبَاء په شکل کښې تشريف فرما اوليدلو. (**د احتِبَاء مطلب** دا دے چې انسان د ښپو په سَر کښيني او د دواړو پنډو نه لاس راچاپيره کړي، داسې قِسم ناسته په عاجزئ کښې شميرلے شي) ❀ حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې به کله د سحر لمُونځ اوکړو نو د پرلَت وهلو سره به کښيناستو، تر دې چې لمَر به ښه پوره را اوختلو. ❀ حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چرې هم په مجلس کښې د چا طرفته د ښپو غزولو سره نه کښيناستلو، نه د اولاد په لور، نه د پاکو بيبيانو په لور، نه د غلامانو په لور ❀ د مبلغ او مُدَرِّس د پاره د بيان په وخت سنت دا دي چې شا د قبلې اړخ ته اوساتي د پاره د دې چې د هغه نه د خبرو اوريدونکو مخ د قبلې په لور شي.

[1]...تاريخ دمشق، جلد9، صفحه:343۔

[2]...مستدرک، جلد:2، صفحه:168، حديث:1869۔

**د ناستې آداب:** ❁ په دواړو زنګونانو (يعني لکه څنګه چې په لمُونځ کښې په **اَلتَّحِيَّات** کښې کښيني، داسې کښيناستل) افضل دي ❁ حضرت ابنِ عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به اکثر مخ په قبله کښيناستلو ❁ اعلٰى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د پير او اُستاذ په ځائے باندې د هغوئي په غير موجودګئ کښې هم مه کښينئ. ❁ کله چې يوې اجتماع يا مجلس ته راځئ نو د خلقو په اوګو باندې د تيريدلو سره وړاندې مه ځئ، چرته چې درته ځائے ميلاؤ شي، هم هلته کښينئ ❁ کله چې کښينئ نو پيزار اوباسئ، ستاسو ښپې به دمه کيږي ❁ چې کله هم کښينئ نو د پردے د ځايونو کيفيت په نظر نه دي راتلل پکار، ځکه "**په پرده کښې د پردے**" د پاره د پنډو نه تر ښپو پورې څادر راخور کړئ، که د سُنت مطابق تر نيمو پنډو پورې وي نو د دې په لمَن باندې هم "**په پرده کښې پرده**" کيدے شي. [1]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د **مکتبة المَدينه** د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 مخونو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي په قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے. الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

[1] ...550 سنتيں اور آداب، صفحه:8 تا 11 خُلاصةً۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شریف په پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ
الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو د کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص ۱۵۱ ملخصًا

### ﴾3﴿ د رَحمت اويا دروازې:

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

### ﴾4﴿ د شپږ لا كه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

### ﴾5﴿ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا خوك ذِى مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

---

1... القول البديع، الباب الثاني، ص۲۷۷

2... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٣٢٩/٢، حديث:٣٠

2...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ٢٥٤/١٠، حديث:١٧٣٠٥

3...تاريخ ابنِ عساكر، ١٥٥/١٩، حديث:٤٤١٥